# د وفا د کور سرے

## د محمد اقبال اقبال په درناوي

**شعیب صادق**

اقبال چې د الفت او د وفا د کور سرے دے
اقبال چې د ښائست د محبوبۍ د ټیک غمے دے
اقبال چې ئې د ذهن په ورشو کښې لا سپرلے دے
اقبال چې د فطرت د ښکلاګانو لېونے دے
اقبال د محبت د اوره نۀ دے تښتېدلے
اقبال د خپل اقرار له ځایه نۀ دے خوځېدلے

یو داسې لېونے دے چې مسکا ئې مجبوري ده
یو دا رنګې پتنګ دے چې رڼا ئې مجبوري ده
مجنون د ساده مینې دے لیلي ئې مجبوري ده
د یار په مینه ډک زړۀ دے درزا ئې مجبوري ده
په زړۀ کښې ئې مدام د محبت شمع بلېږي
ماحول پرې ټول رڼا دے خو په خپله ویلې کېږي

خوي بوي کښې د ښاغلو درویشانو نه کم نۀ دے
اخلاص کښې د سپېځلو انسانانو نه کم نۀ دے
په مینه کښې د ښو ښو مئینانو نه کم نۀ دے
په زړۀ باندې ژوندے دے د ځوانانو نه کم نۀ دے
پښتون دے غېرتي دے د یارۍ په چل پوهېږي
د وخت د هر دستور او د سیالۍ په چل پوهېږي

د مینې محبت یو بې پایاوه سمندر دے
په عزم اراده کښې خوځېدلے نۀ دے غر دے
په ګړده پښتونخوا کښې دے ښکاره لکه د نمر دے
جُثه ئې د ګلاب ده قد قامت ئې صنوبر دے

محفل د پښتنو کښې د یارانو سره یار دے
د هر محفل ښکلا ده او د هر محفل سینګار دے

ملال دے چرته نۀ شي وي دې ټول عمر خوشحاله
سپرلي چې ئې مسکا ته وي ټول عمر له اټاله
ازاد دې وي همېش له د غمونو د جنجاله
ښائسته ده پرې سالمه پښتونخوا وي بې مثاله
صادقه د اقبال په شان پښتون به پېدا نۀ شي
بل داسې د پښتو ژبې مجنون به پېدا نۀ شي

**مشتاق مجروح یوسفزے**

## اقبال

ورک مئین چې په پښتو او پښتنو وۀ
چې خاوند د لوړو لوړو حوصلو وۀ

د اندېښ او د اسرار د چوټي یار وۀ
دړدېدونکے چې په خپلو هم پردو وۀ

چې د دړد سره یاري پالل ئې زده وو
آموخته چې د زېبرګو او د سلګو وۀ

کۀ په تن باندې روغ شوے چرې نۀ وۀ
خو ښتن د ځوانو ځوانو ولولو وۀ

نن هغه اقبال زمونږه نه جدا شو
نازنین چې هم د لویو هم وړو وۀ